## د افغانانو په معاصر تاريخ کي د شهيد ډاکټر نجيب الله تلپاتئ ياد



د سپتمبر اوه ويشتمه زموږ ځوانمرده، جګړو ځپلی او خوږمن ولس د افغانستان د پخواني جمهور رئيس ډاکټر نجيب الله د شهادت د نولسمي کاليزي په مناسبت ددغه لوی شهيد د لوړو انساني او افغاني سوله ايزه آرمانونو او د هغه د حماسي ، وطنپالني او افغانپالني ايډيالونه تر سترګو تيروي او په زيات احترام يې لمانځي . اوسنی نسل په غمځپلي افغانستان کي دسولي دتأمين دپاره د دغه وطنپرسته شهيد د ملي اميدونو يادونه د خپل ژوند په تلپاتې خاطرو کي تازه کوي . په دغو ياد ونو کي چې د ډاکټر نجيب الله د وطنپالني لوړ ايډيالونه د وطن او افغان ولس سره د هغه شهيد د لېونی مېني، د ناپايه محبت او صداقت، دهغه شهيد افغاني شهامت او د وطنپالني ريښتني الهامونه او پيغامونه پراته دي، افغان ولس په هغه کې، د خپل ملي غرور او سپيڅلي احساس تمثال ويني .

د ډاکټر نجیب الله د شهادت د تراژیکي کلیزي یادونه په واقعیت کې د هغه نامردانه او غیر افغاني، غیر انساني او غیر اسلامي عمل د غندني یادونه هم ده چې دغه ملي او افغاني لوړ شخصیت یې د نړی والو ځواکونو په لوبو کې د یوې لویې شرمناکي کورني او سیمه ایزي خائینانه دسیسې په لومو کې را کښې ایست، وطن یې دوینو په حمام واړولی او په پای کې یې دغه ملی شخصیت ناځوانمردانه د ملي فتنه ګریو په بازیو کې قرباني کړ. زموږ په افغاني ټولنه او جګړه ځپلي غمجن هیواد کې ټوله وړونه ولسونه ډاکټر نجیب الله د سولې، ملي پخلاینې او ملي یووالی د یوه سربښندویه مخکښ اود یو ه ستر انسان او د ملي یووالي د سمبول په حیث ورته ګوري او ډېر درناوی یې کوي. د ډاکټر نجیب الله دروند شخصیت نن په وطن کې د هر هغه ملي او مترقي تحرک او نوښت سره انساني،عاطفي، اخلاقي او افغاني پیوند هم لري چې دافغانانو په زړه او دماغ کې اخښل سوی دئ او د هري سوله ایزي او ملي تفاهم د پروسې و اغاز ته د هغه شهید د نوښتونو او کړو سره الهام بخښونکی تړاو ورکوي . نن هر هغه بږغ چې د افغانانو د وطن په ملي او مترقي کړیو کي د سولي ، ملي یو والي، پخلاینې،ترقي، دیموکراسی او ټولنیز عدالت دپاره چې د هر چا او هر ګروپ لخوا راپورته کیږي ، په داسي یوه ملي بږغ او وطني غوښتنو کي دشهیدډاکټر نجیب الله نوم او دهغه سپېڅلي ارمانونه خود بخوده انعکاس پیدا کوي او د تل څخه و سطحي ته را پورته کیږي او د هر چا ومخې ته دربږي . دهغه ، هغه هلي ځلي ، هغه انساني او ملي کارنامې یې هم تر سترګو تیریږي، کوم چې شهید ډاکټر نجیب الله د خپل ژوند تر وروستیو شېبو پوري په خپل افغاني غیرت سره پر هغه باندي ولاړ وو او د خپل ژوند په بیه یې د خپل ولس او خلګو د سولي او ښیرازې په خاطر تر هغه تیر نسو او په نره یې خپل سر هم ور باندي کښېښود. ډاکټر نجیب الله د پردو د فتنو او دسیسو په رسوا کولو کي چې ملي ببلوالي ته یې پکه وهله ځان پر دار و ځړاوه خو دوطن ددښمنانو د بې ننګی او ملي افتراق د خائینانه هڅو ټاپه یې پر ځان و نه لګوله .

نن چې د ډاکټر نجیب الله دشهادت نولسمه کالیزه لمانځل کیږي دهغه شهید د ملي مصالحې د سیاست و عمده ټکو او لاسته راوړونو او ستونزو ته چې څوک ګوري نو د هغه شهید وطنپالنه، د هغه سیاسي

پوهه او عالي بصيرت دهغه د مسؤليت او ډېر لوړ ملي احساس وتولو ته ،ان د هغه و نيمه لاره ملګرو او مخاليفونو ته لا هم څرګنديږي .

د ډاکټر نجيب الله د ملي پخلايني سياست چي زموږ هيواد د ډېرو پېچلو او نا مکشوفو لارو په وهلو سره د کړکېچ سره مخامخ سو يا يي په لوی لاس د کړکېچ سره مخامخ کړ هغه شهيد په خپل لوړ درايت سره دتيرو ترخو او دسيسو نه ډکو تجربو نه د زده کړي پربنا و داسي لوري ته رهي کړ چي هغه ته يي زموږ د ټولني، سيمي او نړی د غوښتنو سره سم يو عملي، افغاني او ملي روحيه او سا ورکړه. په واقعيت کي هغه ددې کړنلاري په اعلان سره زموږ د هيواد د حوادثو مسير و داسي مرحلي ته ننه ايست ، چي په هغه کي د کړکېچ ټول بهرني او کورني عوامل په رياليستيک ډول سره وڅېړل سوه او هغه ته يي د افغاني ټولني د کرکټر او روحياتو سره سم او د ملي غوښتنو په چوکاټ کي بدلون ورکړ . ډاکټر نجيب الله د افغاني ټولني په بحراني حالت کي د ټولو بدلونونو په سر کي د ملي يووالی او د ملي ګټو ساتل او د سولي تأمين مد نظر وو . هغه دا واقعيت درک کړی وو چي د پخواني سخت دريزه او کتابي لاري نه چي زموږ وطن يي دنړی وال کړکيچ په مرکز کي را ښکېل کړ، وطني لانجي يي ولمسولي او دهغو حل يي و ډېواله ته و دراوه ، وسولي ته يي د پر مختګ لوری وتاړه، نو د ملي مصالحي سياست يو ملي افغاني او مترقي او د افغاني لانجي نه د وتلو دپاره يي تر ټولو غوره يوه مترقي، افغاني ، هومانيستي او اسلامي لاره وګڼل .

ډاکټر نجيب الله په هغه ټاکونکي مرحله کي چي زموږ هيواد د واقعي بحران سره مخامخ وو ديوه ملي واقعبينه لارښود په توګه، د وطن و راتلونکي ته يي نه د ځان او خپل موقف د ساتلو په خاطر بلکه په افغاني ملي مسؤليت سره يي د حوادثو و بهير ته کتل ،هغه د هيواد په هغه کړکېچن حالت کي وسولي ته درسېدو فکر کاوه، پر سياسي پلوراليزم يي باور لاره او افغانانو ته يي لمن ونيوله چي هر څه چي يي په وسه وي د انسان په نامه، د افغان په نامه، د مسلمان په نامه ،ديوه متعهده سوله دوسته ترقي غوښتونکي په نامه، ورور وژنه چي د پردو په وسلو او پيسو لمسول کيږي او پکه ورته وهل

کیږي بنده کړي او د هغه د دوام نه لاس واخلي . هغه د ملي پخلاینې پر سیاست چې هیڅکله یې تر دا اوسه پوري بل التړ ناتیف نه دی پیدا کړی اونه یې لري تولي خواوي يي و سولي ته را وبللې او د مسؤلیت د احساس ږغ یې ور باندي وکړ څو په وطن کې د جګړې او وینو د تویدو مخه ونیسي .

ډاکټر نجیب الله د خپل لوړ سیاسي بصیرت په درلودلو سره داخبره درک کړې وه چې په دې یې سر نه سره ورځي چې واک دي په یو اړ خیزه توګه و هیڅ یو میکانیزم ته پرېښودل سي او په هیواد کې د هر چه بادا باد حالت دي را مینځته سي . هغه په ډېر مسؤلیت سره دواک پرېښودل مانه خو دایې ویل چې واک که و داسي یوې بې واکه ډلي ته پرېښودل کیږي چې د هغوی واک دي د پردو په لاس کې وي او ملی نفاق ته لمن ووهی نو په داسي حالت کې به بیا هم د جګړې او ورور و ژني اور نه مړ کیږي . بیا به هم اته ګوني او اوه ګوني ښکر پر ښکر کیږي او د شمال غوندي ملي ضد ائیتلافونه به جوړوي ، بیا به هم، هم پخپلو کې او هم به د خلکو په وژنه او د وطن په بربادی لګیا وي او د وینو والې به بهیږي . د ډاکټر نجیب الله غوښتنه دا وه چې دسولی او ملی پخلاینې لاره باید د ټولو ذیدخله افغانانو تر مینځ په مسؤلیت سره د تفاهم له لاري د یوې نوي او روښانه راتلونکي ته د اوښتون په خاطر وي، په سوله او ورور ګلوی کې د ګډ ژوند و یوې دودیزه افغاني او مترقي ټولني ته د جوړېدو و افقونو ته دپرانیستلو لاره خلاصه کړي . ډاکټر نجیب الله په دې لاره کې نه فردي ګټي، نه ګوندي ګټي، نه د پردیو ګټي، نه قومي، سمتي او توکمي ملحوظات بلکه یوازي او یوازي یې ملي، افغاني، وطني او انساني ګټي، مصلحتونه او مسؤلیتونه په نظر کې لرل . په دې ملي لاره کې یې زموږ د هېواد د ربړېدلي ولس سوله ایزه ښېرازه غوښتله . په داسي یو کړکېچن حالت کې دا لاره په هر ترتیب چې وه باید وهل سوې او یوازي د افغانستان د ملي خپلواکی، دافغانستان د ملي واکمنی او د افغانستان دملي ګټو د ساتلو په خاطر لازمه وه چې ددې ګډ هیواد د لانجو په حل کې ټولو متعهدو، مترقي او وطنپالو لارویانو نه په انفرادي توګه بلکه په ګډه یې باید دفاع کړې وای .

اوس خو داخبره بلکل روښانه سوه چې ددې دونه لویې تراژیدی په وهلو سره دملي پخلاینې هغه ایډیالونه چې دډاکټر نجیب الله لخوا د افغان ولس د ښېرازې دپاره چې ددولتي سیستم په ساتلو او

بدلولو سره يي و نوي افقونو ته لاره پرانيستلي وه، که ددې سره دټولو متعهده افغانانو او ملي عناصرو لخوا په مسؤليت سره چلند سوی او د ملي پخلاينې د مترقي اوملي طرحي نه ټولو مطرحو ملي افغاني کړيو او عناصرو ملاتړ کړی او د هغه څخه يې د سولې، ترقي او د ملي ګټو د ساتنې په خاطر ګام پورته کړی وای، نن به موږ د پردو او دهغوی د کورنې لاسپوڅو ددې دومره لوی ناورين او فاجعې سره نه وو مخامخ سوي . د وطن دروشنفکرانو دغه لوی لښکر به د خپلو کورنيو سره به داسې په ټوله نړی کې نه وو لالهانده سوي، وران وطن به مو د امريکايانو ، انګرېزانو او د ۴۰ نورو هيوادو د پوځيانو او د ناټو په اډو نه وو بدل سوی ، په دې سيمه کې به د راتلونکې دپاره ددې دومره لوی چپاو او ګډوډۍ زمينه نه وه برابر سوې او داسې ډېر نور څه به نه وو پېښ سوي .

ډاکټر نجيب الله د سولې و مخالفينو او دجګړې ددوام و پلويانو ته په ډاګه ويلي وه چې نور نسي کولای د دولت په مقابل کې د خلکو قضاوت په زوريا د تبليغاتو په وسيله سره د يوې اوږدې مودې لپاره د ځان په ګټه واړوي . ولس ددولت په عملي اجرأتو کې د خپل ورځنې ژوند د غوښتنو او اړتياو انعکاس ګوري او ددولت د پلانو په تحقق کې دهغه څخه ملاتړ کوي . اوس چې څوک و دې مسير ته نظر اړوي او په هغه کې د هغه ډلو او ګروپونو و فردي او ګروپي لوبغاړو و کړو ته ګوري نو دا واقعيت څومره روښانه کيږي چې دې ډلو او اشخاصو څومره د پردو د ډيکټو په پلې کېدو سره خپل ملي ضد عملونه په څومره بې مسؤليتۍ سره د حالاتو مسير، نه د هيواد د يووالي، نه د ملي پخلاينې او سولې د تأمين په خاطر بلکه دهغه پر ضد يې پر مخ وواهه او د تيري لسيزي دغه روانه ملي فاجعه يې راوزيږوله .

نن ټوله مترقي، ملي او افغاني بادرده کړۍ چې ملي او افغاني فکر کوي، د ملي ګټود ساتلو خيال ساتي ، د افغان ولس د ښېرازۍ دپاره د ملي يووالي ، ملي پخلاينې، سياسي پلوراليزم، دټولنې د قانونمنده پرمختګ او د هغه پر ډيموکراتيک ګرنديتوب باندې خپل ملي او وطنپاله احساس څرګندوي نو دغه واقعيت ته د خپل وجدان په حکم غاړه ږدي، چې دا په واقعيت کې د وطن په هغه

پېچلي حالت کې د ډاکټر نجيب الله او د هغه افغاني ، ملي جسارت او پراخ سياسي بصيرت وو چې په افغاني ټولنه کې يې د يو ګونديز کتابي تګلاره شا ته پرېښودله، په ګوند کې يې د واکمنۍ د کلونو رکود مات او د يکه تازۍ د طلسم تغر يې ورټول کړ. دغه که د چا خوښيږي او که نه، خو زموږ دګران هېواد افغانستان ددې دوو لسيزو په ډراماتيکو پېښو کې دغه تاريخي وياړ يوازې د ډاکټر نجيب الله په برخه سو چې ځان يې د ملي او افغاني مصالحې په کړنلارې کې د يوه رينتيني وطنپاله افغان په توګه د ولس په زړه او د هغوی د تاريخ په پاڼو کې ځانته وياړلی ځای ځای او ددې وطن د رينتني بچي په توګه يې خپل ځان وځلاوه .

ډاکټر نجيب الله دغه واقعيت درک کړ چې په هېواد کې هغه جګړه چې ټول مادي او معنوي شتمنی له مينځه وړي دا په رشتيا دچا سره پر مخ بيول کيږي او نتيجه يې د چا په ګټه تماميږي ؟ هغه په ډاګه د ګوند په دننه کې د ټولو خواوو نه و غوښتله چې د پردو په زور، د ملي بېلوا لي پر نسخه باندي تکيه کول اود خپل ځان په غټولو کې د خپل ولس د وينو تويول ملي، انساني، افغاني او اسلامي لاره نده . هغه ددې جګړې ددوام څخه خپله لاره جلا کړه خپل ولس ته يې مخه راواړاوه، سولي او ملي پخلايني ته يې د خپل افغان ولس د ښېرازې په خاطر ، وديموکراسی او ترقی ته يې د پوره باور په درلودلو سره غاړه کښېښودله .

ډاکتر نجيب الله ددغه شاني تفکر ولارويانو ته چې و ملي اندوخر ته يې لاره خلاصوله او دغه لاره يي بيا ويوه لوی ناورين ته تيل واهه، ان په هغه وخت کي و ټولو ګوندي او نا ګوندي ، ملي او مترقي، کورني او بهرني حلقو ته په ډاګه کړه، او د وطن د لوړو مصالحو په خاطر يې دهغوی څخه وغوښتل چې ددې وطن پر راتلونکي او ددې وطن او ددې مظلوم ولس پر بنيادي مصالحو باندي په مسؤليت سره چلند وکړي او هغه چا چې د بابايي ادعا يې کوله د هغو نه يې هم و غوښتل چې په هغه حساسو شېبو کي خپل ځانونه تثبيت کړي . هغه ټول خپل انساني او خپل افغاني توان او تاريخي مسؤليت په کار واچاوه چي دا وطن دهغه څه نه و ژغوري چې دښمنانو يې د ښار پر ښار، کور پر کوراو کوڅه پر کوڅه جګړو داوردبلېدو نخشې په سر کي درلودلې ..

نن چي هر با وجدانه او روښن ضميره انسان ، هر با دردہ او مؤمنه افغان، هر مترقي او با وجدانه انسان او هر باديانته مسلمان چي په خپل ګرېوان کي وګوري او د ډاکټر نجيب الله و هڅو او دهغه و ملي او انساني هلو ځلو ته مخ را اړوي او د هغه راوروسته فاجعې و ابعادو ته هم چي کتنه کوي نو په هغه کي به ډېر داسي څه پيدا کړي چي هيڅکله به ونسي کړلای هغه دي په جعلي رواياتو او نامردانه جعلياتوسره پر بله کړي . د هغه په هڅو او روښانه کړو کي به ډېر داسي څه پيدا کړل سي چي زموږ د افغاني ټولني د عالي کرکټر ملي خويونه، افغاني، انساني، مترقي او اسلامي مصالح ، مسؤليتونه او ګټي په نظر کي نيول سوي وې .

ډاکټر نجيب الله د وطن ريښتيې بچی وو هغه توکم، سمت او يوې ولسوالی ته نه کتل هغه د ځينو پر انترناسيوناليستي باورباندي د ملت په وړاندي سياسي لوبي نه کولي ، هغه هومانيسم ته درناوی درلود خو هغه يې په يوه توکم او ولسوالی کې نه لټاوه. د هغه پښتون زړه دغره پشاني لوی وو او بين الا افغاني تفکر يې لاره . هغه واقعاً د يوه افغان په حيث خپل دمسؤليت هيبت ناکه ناره يې د ګوند پر کهنه پيخانو باندي را پورته کړه او هغه يې په هغه وخت کي ددې وطن د لانجو دحل دپاره يوازنی شفا بخشه نسخه و ګڼله . هغه د ځان د ساتلو او پردو ته د خدمت په خاطر يو لړکی د بل لړکي پر ضد تحريک نکړ. هغه ددې خاوري ټولو بچيانو ته ددې خاوري د واقعي بچيانو او وارثينو په تو ګه کتل، خو ځينوچې د پردو په برستنو کې يې ځانونه پېچلي وه د ولس غوښتني يې هيري کړي وې، خپل ملي ا وطني مسؤليتونه يې يوې خواته پرې ايښي وه . د افتراق اوملي فتني لاره يې خپله کړې وه ، داسي يوه محاسبه بس يوازي و يوه خرمن ته اور اچول وه چي لمبو يې هماغسي چې ډاکټر نجيب الله ويل د هغوی لمن يې هم و ر وسوځول .

ملي تفاهم، روغه جوړه ، ملي يووالی او دملي ګټو د اولويتونو پر بنياد و بين الافغاني تفاهم ته رسيدل اوس هم هماغه د ډاکټر نجيب الله د سولي او پخلايني تاريخي لاره او د روښانفکرانو د بيا راغونډېدو او تشکل يواځني ملي او افغاني شېوه ده . پر افغان او افغانستاني باندي، پر خراسان او خراساني باندي پر شمال او جنوبي باندي پر شيعه اوسني باندي د لانجو وېشل دا هيڅکله زموږ د

ګران هیواد افغانستان د کرکېچ منبع نه وه او نده او د حل لاره یې هم دغسي اوساني ندي او نه به وي. داسي بې مسؤلیته انساني او افغاني ضد طرحي ددې وطن روانه د بې ثباتی لانجه نسي حلولای . دا نسخې افغاني نسخې ندي په دې نسخو کې د پردو نخشې او ګټي پرتې دي او هغوی چي ددغو مقولو و اشاعې ته خولې خلاصي کړي او هغو ته لمن وهي هغوی نه افغاني هویت لري او نه به هم افغانستاني هویت پیدا کړي . داسي هیسټري د افغانانو د یو موټي هېواد د ملي ګټو سره په تضاد او ټکر کي راځي چي و هیچاته به نه د منلو وړ وي او نه به هم خپل هویت پکښې وساتي او مسلماً چې هیڅ ډول راتلونکې به هم و نلري . ددې وطن د ملي مصالحو او ملي مسئلې سره په داسي بې مسؤلیتی سره لوبي کول د اوره سره بازي ده او په نتیجه کې به یې تر ټولو دمخه دهغوی مخکښه بازیګران تجرید او مختوري کړي . دا وطن دټولو مېشته پښتنو تاجکو، ازبکو، هزاره وو بلوڅانو، پشه یانو او نورو ګډ کور دی. په دې ګډ کور کي د هر رازي فتنې او افتراق را مینځنته کول سم دم د پردو نخشې دي او هر څوک چي و هغه ته شجرې جوړوي بې له شکه د پردو اجنټان او ملي خائینان دي .

ځیني دوستان وایي چې که نن مرحوم داکتر نجیب الله ژوندی وو نو هغه سیاسي درایت او جسارت چي هغه درلود، د وطن د نني دردناکه حالت نه د وتلو دپاره، د افغانانو د خپل مینځي تفاهم په خاطر به یې نوري نوي لاري لټولي وای . خو دغه ښاغلي باید دغه ټکي ته پام وکړي چي دغه نوي لاره به بیاهم ملي مصالحه او بین الا فغاني تفاهم وي چې بیا به هم د همدې طرحي د روح څخه به یې الهام اخیستئ . دغه الهام به بیاهم پر ملي افغاني او د خپل وطن د پاره د مسؤلیت په احساس سره د سولي تأمین او په ټولنه کي د ولس د اصلي غوښتنو و پوره کولو ته وقف کېدلای . ددې کار لپاره هیڅ بل الترناتیف نسته هغه څوک چي دغه پروسه ردوي که پخپله هم را مخته سي نو بیا به هم همدغه لاره په نوی کلماتورا مخته کوي چې په ماهیت کي به بیا هم همدغه د ملي مصالحې جوهر پکښې پروت وي او د تفاهم بین الافغاني نوم به ورکوي . خو فرق به ضرور دا وي چي همدغه لاره به یا پر خپل نامه او یا د خپل فرکسیون او نوي ګوند په نامه را مخته کوي !

د نړۍ و تلي ، نامي او تلپاتې څېرې د هېوادونو په سرنوشت جوړونکو مرحلو کي تل په خپل کړو او ګذشتو سره، په خپلو تېروتنو او اعترافوسره و ولس ته رجوع کړېده او د هېوادو په تاريخ کي يې حماسې جوړې کړي دي . داشاني نامي کسانو د نسلونو په زړو کي د يوه ملي قهرمان په توګه د ولس د ارمانونو په تحقق کي ځانته ځای پيدا کړی دئ او دانسان او انسانيت په نامه ددرناوی و ډېر لوی منزلت ته رسيدلی دئ . که څوک وغواړي که يې و نه غواړي ، که د چا خوښيږي او که د چا بد ځيني راځي زموږ د معاصر په وينو لړلي دوران او تاريخ کي ډاکټر نجيب الله دغه دافغان ولس وياړلی بچی دداسي يو شخصيت او افغاني کرکټر خاوند وو چي د خپل جمهوري رياست ددورې په سختو کلونو کي يې ددې هيواد په تاريخ کي د وياړ نه ډک ځای پرېښود. افغان ولس او دافغانانو تاريخ به ډاکټر نجيب الله په ډېر احترام او قدر سره ياد وي او برعکس دښمنان به يې ددې هيواد د بدبختيو د عاملينو په نامه غندي . نن چې ددغه ستر شهيد د نولسمي کليزې په درشل کي لمانځل کيږي نو پر ځای ده چي د شهيد ډاکټر نجيب الله د ملي او مترقي ارمانونو ډيوه بل وساتل سي اوټول ملي اووطنپاله افغانان د ډيموکراسۍ، سولې، ترقی او ټولنيز عدالت جنډه په يووالي او صداقت سره پورته وساتي او د سالمو عناصرو په ګډون د يوه نوي ملي، مترقي او يو موټي تشکل لاندي د ګران افغانستان د زخمي ولس پر ټپو باندي مرهم کښېښږدي . دغه شاني يو تشکل به زموږ د وطن د شهيدانو روح او د شهيد ډاکټر نجيب الله د سپېڅلو ملي هڅو او لوړو ارمانو ته پر ځای درناوی وي .

هدايت الله هدايت

استرليا